# د فلسطین جګړه؛ په صهیونیستي جامو کې غربي صلیبي جګړه

(ژباړه)

طوفان الاقصی او د شام د خلکو ثبات د یهودو له کوچنی او په هېڅ شمار دولت او خاینو مزدورو دولتونو ډېر ستر دی؛ ځکه طوفان الاقصی د ټولو سختیو او پایلو پر وړاندې د مسلمانانو د ټینګ عزم، پیاوړو ایمانونو او حقیقي اسلام ښکارندویي وکړه. طوفان الاقصی همداراز وښوده چې اسلام په اوسنۍ نړۍ، جغرافیه او بشر کې پیاوړی نفوذ لري. دغه زیری ورکوونکی او ویروونکی حرکت ښيي چې د اسلام د روڼ سهار راختو پر لور تمدني پړاو ته رسېدل نږدې شوي او د ملعون غرب تیاره شپه له منځه تلونکې ده.

ملعون غرب باوري شوی چې اسلام بیاځلي صحنې ته راځي او د دوی کفر له منځه ځي. د غرب د جنایتونو او وحشت مرکز او اډې، یعني د غرب په لاس جوړ شوي سپک یهودي رژیم ماتې، غرب سخت وېرولی او د ښنو لړزېدا یې زیاته شوې. غربي دولتونه تل د یهودو رژیم تغذیه او پیاوړی کوي چې د هغوی د موخو تر لاسه کولو پر لور حرکت وکړي؛ خو کله یې چې وخت راورسېږي، د یهودو رژیم سپکوالی او ناوړه کړنې به بربنډې شي. د غرب دا اډه په لړزېدو ده او تر ټولو مهمه وسله یې له منځه ځي.

د غرب تر ټولو خطرناکه ستونزه دا ده چې شام خاوره لمبې کوي؛ د خلکو مبارک انقلاب یې دویم پړاو ته ننوتلی او په خپل ثبات او مبارزه یې د غرب ټولې دسیسې او مکر شنډ او مات کړي دي. همدا د مبارکې خاورې لمبې دي چې د غرب وېره او ستونزې یې زیاتې کړې؛ د شام د خلکو ټینګ دریځ او ثبات د د دغه سپک رژیم ستنې په لړزه راوستې دي.

دغې تراژیدۍ د غرب لپاره بله هېڅ لار نه ده پرېښې؛ د دې ښودلو ته اړ شول چې یهودي رژیم یې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې صلیبي جګړې یوه وسیله ده او دا چې له دغه رژیم یا د دوی له اډې ساتنه یې مهمه دنده ده. په دې سره ښيي چې د غرب لخوا یهودو ته د ځواکونو، الوتکو، کښتیو، بې پیلوټه الوتکو، اوبتلونو او کومکي پلونو په برابرولو او چمتو کولو سره دوی د یهودو دولت تر شاه کلک ولاړ دي او په خاینو دولتونو کې د دوی اډې د غربي صلیبې جګړې لپاره صلیبي دنده ده او په دې سره غواړي چې د اسلام هغه نور مړ کړي چې په نږدې راتلونکي کې به نړۍ بیاځلي پرې روښانه شي. هغه نور چې د دوی له سترګو یې خوب وړی او فرهنګ به یې له منځه یوسي.

له شک پرته له غرب سره زموږ ستونزه سټراتیژیکه او جوهري ده؛ جوهر یې د اسلام او کفر ترمنځ خونړۍ، سخته او تلپاتې فرهنګي جګړه ده؛ پخوا مو پر وړاندې کلیسایي نظام و، اوس سیکولریستي نظام دی. د دې جګړې اور نه مړ شوی او نه هم کمزوری شوی؛ بلکې لمبې یې په دې وروستیو لسیزو کې ډېرې شوې دي؛ تاوتریخوالی او خونړۍوالی یې د مسلمانانو په منځ کې د اسلام د فعالیت له راژوندي کېدو او حرکت سره لا زیات شوی.

نو غرب همغه صلیبي او کینه لرونکی غرب و او همداسې به وي. اسلام همغه حق اسلام دی او تل به همداسې وي. نو که د جګړې کیفیت هر څومره بدل شوی، د دغې جګړې او مبارزې ماده پای ته نه ده رسېدلې. دا همغه د صلیبي غرب جګړه ده چې پای نه لري؛ ټولې مخامخ او نیابتي جګړې یې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې صلیبي کرکه او کینه ښيي.

نو جګړه همغه ښکاره او حقیقي شبېه ده چې له غربي صلیبي وحشت او د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د هغوی له کرکې پرده پورته کوي؛ ټولې غولوونکې تورې وریځې، فرېب او دوکه ترې لرې کېږي او ځنګه چې ده او باید وي، هغسې ښکارېږي. جګړه د اسلام او کفر او مسلمانانو او صلیبیانو تر منځ ده.

په الوتکو وړونکو او نورو کښتیو کې د امریکا او انګلیس او نورو صلیبیانو راټولېدل او په خاینو او مزدورو هېوادونو کې د هغوی له اډو او هوايي امن پلونو څخه د دوی د الوتکو الوتنې؛ د صلیبي اروپا راتلونکي نظامي تجهیزات، لښکرجوړونې او د غرب عاطفي لارې د دې لپاره نه دي چې دوی پر یهودو وېرېږي، بلکې یهود تر دې سپک دي چې غرب خپل ځان د هغوی پر چارو بوخت کړي. دا همغه غرب دی چې یهود یې د خپلو کلیساوو له لارې وځورول او ویې وژل. دوی یې دې ته اړ کړل چې اسلامي خاورو ته وتښتي. دا غرب هماغه غرب دی چې یهودیان یې د سېکولریزم له لارې په دویمه نړیواله جګړه کې قتل عام کړل؛ بیا یې د ځان ژغورنې لپاره د صلیبې جګړې د سون توکو غوندې د مسلمانانو په کورونو کې واچول.

تر دې وړاندې د شام د خلکو ثبات او مقاومت د غرب دسیسې شنډې کړې او نن ورځ هم طوفان الاقصی د دوی پښې ولړزولې او ورسره یې سپک یهودي رژیم ته هم درس ورکړ. نو غرب یې له پایلو ووېرېد. دا پېښې یوازې دا ښیي چې د اسلام بیا راتګ څومره چټک دی، اسلام په امت کې څومره ریښې کړې؛ دیني نهضت څومره صیقل شوی، د خپلو ځواکونو د قدرت په اړه یې لید څوره ژور شوی او دا چې د اسلام روڼ سهار څومره ډېر را نیږدې شوی.

د یهودو سپک رژیم چې د غرب یوه اډه او مرکز دی؛ د مسلمانانو د یوې کوچنۍ ډلې په لاسونو څومره ذلیل شو او تر څنګ یې له دې هم پرده پورته شوه چې دا رژیم د غرب او صلیبیانو لخوا مامور شوی او اصلي چلوونکي او اداره کوونکي یې صلیبیان دي.

د شام په مبارکه خاوره کې ټولې جګړې په حقیقت کې د صلیبي غرب د جګړو یوه برخه ده او یهودي رژیم یې یوه وسیله او اډه ده. کله چې د صلیبي غرب دا اډه په لړزه شوه، غرب مستقیمه مداخله وکړه او د مسلمانانو په منځ کې د برخلیک ټاکونکې قضیې په تیت او پرک کولو سره یې خپل صلیبي پلان ته دوام ورکړ څو د دې مخه ونیسي چې مسلمانان له غرب د ازادۍ او خپل خلافت تاسیس کولو موخې ته ونه رسېږي او له دې سره د ټولو اسلامي خاورو ازادي او له غربي استعمار څخه د هغو پاکول وځنډوي او پرې نه ږدي چې ټولې اډې، د جګړې وسیلې، مزدوران او یهودي رژیم – چې د غرب تر ټولو سسته اډه او وسیله ده- له منځه لاړ شي.

اې د بشر لپاره تر ټولو غوره امته! اې د سترو حماسو او سترو جګړو بچیانو! اې د اصیل عزت خاوندانو! له غرب سره زموږ جګړه فرهنګي او ایډیولوژیکه جګړه ده؛ دا جګړه قهرجنه او خونړۍ ده. نصرت او بریا د وژل شویو کسانو په شمېر او د ویجاړیو په حجم کې نه، بلکې په مبدا کې ده؛ خو ستاسو پر وړاندې د صلیبي غرب وحشت، کرکه او ستاسو د وینو په تویولو کې د هغوی سیادت غوښتونکی یرغل د نورو جګړو په پرتله ډېر لوی دی.

دوی ځکه داسې کوي چې د خپل فرهنګ له ورکېدو وېرېږي، فلسفه یې په ورکېدو ده او د نظام بد بوی یې توله نړۍ پر سر اخیستې. ځکه خو ستاسو د اسلام عظمت د دوی له ستروګو خوب وړی او ستاسو پر وړاندې ظلم او وحشت کوي. د عزت د بیا تر لاسه کېدو، د الله سبحانه وتعالی د شریعت حاکمولو، د اسلامي نظام تر چتر لاندې روڼ سهار د پیلېدو او د ملعون کافر د تورې شپې د ختمېدو وخت ډېر نیږدې دی او تاسو د دې لپاره ټینګ عزم لرئ. ځکه خو دوی غواړي تاسو مړه وویني؛ په داسې حال کې چې ژوند او مرګ د اسمانونو او ځمکې د جبار په لاس کې دی او موږ یې بندګان یو. الله سبحانه وتعالی زموږ ولي دی او ملعون کافر کوم ولي نه لري.

اې د بشر لپاره تر ټولو غوره امته! اې د وحي خزانې! اې د بدر، احزاب، د مکې فتحې، موته، یرموک، قادیسه، عموریه، زلاقه، حطین، عین جالوت او د قسطنطنیې د فتحې زامنو! موږ له خپل کم شمېر څخه نه وېرېږو او د کفر لښکر او بریدونه مو نه کمزوري کوي. زموږ تلپاتې ځواک او تجهیزات، زموږ ایمان دی چې هېڅکله نه مغلوبېږي. د بدر په ورځ هم زموږ شمېر کم و، د اسونو شمېر مو د یادولو نه و او تورې مو هم د ګوتو په شمېر وې؛ خو زموږ ایمان د نبوت له ایمان سره غوټه شوی و.

هغه ورځ مو د شرک ټغر ورټول او باطل رهبران مو له مخې لرې کړل؛ د تر ټولو سترې حماسې تاریخ مو جوړ کړ. دا راتلونکو نسلونو ته سنت پاتې شو؛ مثنی بن حارثه رضی الله عنه د تورو په زور مهران ابن باذان فارسي ته د ځمکې پر مخ دوزخ ور وښود او د مرګ ترخې شېبې یې پرې وڅکلې.

دا لومړی جسد و چې مثنی پیل پرې وکړ او د فارس له مشرکینو سره تر سترې جګړې پورې د نوموړې هڅې پای ته ونه رسېدې. په دغې ستره جګړه کې د تاریخي روایتونو له مخې، سل زره کسان یا په تورو ووژل شول او یا د مسلمانانو له تورو د تښتې پر مهال ډوب شول. په هغه ورځ د مومنانو شمېر تر ۱۲زره نه اوښت، په داسې حال کې چې د فارس د مشرکینو شمېر ۱۵۰زره و؛ پرېمانه اسونه او فیلان هم ورسره وو. ځواک یې دوی د الله سبحانه و تعالی له قهره ونه ژغورل. الله سبحانه وتعالی له جنایت کوونکو سره داسې عمل کوي.

اې د خالد، ابی عبیده، قعقاع، مثنی، محمد بن قاسم، طارق بن زیات، معتصم، یوسف بن تاشفین، صلاح الدین، مظفرقطز او محمد فاتح لمسیانو! اې د کرامه جکړې، فلوجه حماسو، د تورې بورې مرچلونو، کابل او طوفان الاقص زامنو! په الله تعالی دې قسم وي، هر څومره سخت چې ابتلا شئ او هر څومره چې سخت وازمایل شئ، د دې لپاره دي چې د حکیم او پوه رب نصرت ته تیار شئ، د الله سبحانه و تعالی نصرت له مومنانو سره دی او همدوی ته ښکاره قدرت او امکانات ورکوي.

نو بیړه وکړئ! د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ «دین» منګولې ټینګې کړئ، کمزوري او غمجن کېږئ مه، چې مرتبې مو لوړې شي. خپل ځواک او توان سره یوځای کړئ او د خپلو سرتېرو له دروازو ټکولو مه نهیلي کېږئ.

په هغه کې ستاسو د بریا جشن نغښتی او دا مو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم طریقه ده؛ نو ټول هغه ته ژمن اوسئ او تعقیب یې کړئ! پر دې یقین ولرئ چې د نېکو کارونو کوونکو لپاره د الله سبحانه وتعالی رحمت نیږدې دی او غوره پای د متقیانو دی.

﴿...وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ [اعراف: ٥٦]

**ژباړه:**«*او الله د وېرې او هیلې له پر اساس دروبولئ (وېره له مسووليتونو او هيله يې رحمت ته ده او نېکي وکړئ)؛ ځکه د الله رحمت نېکانو ته ورنژدې دی.*»

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ(5) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ [قصص: ٥-٦]

**ژباړه:** «*او موږ غوښتل چې د ځمکې پر کمزورو کړای شویو منت وکړو او دوی (د ځمکې پر سر) پیشوایان او وارثان کړو. او دوی (کمزورو او مستضعفانو) ته د ځمکې پر سر قدرت او تمکّن ورکړو.*»

**ليکوال: استاد مناجی محمد**

**الرايه: ۴٦٧مه ګڼه**

**د ۱۴۴۵هـ.ق کال د ربيع الاخر ۱۷مه**

**ژباړه: بهير «ويار»**